مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۱۷

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۷ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**پـلـتـنـي:** یا پـَـتـَـنـي: [1]: ۲۱ – ۳۳، ۵۲ – ۶۸ «ج»: دا په زرمت کې د بند او سلطاني تر منځ له بند څخه ۱۱ مایله او له سلطاني څخه ۱۵ مایله لیرې یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. له دې ځایه هر ډول اړتیا توکي تر لاسه کیدای سي خو سون توکي کې په کې په قلت موندل کـېـږي. ځمکه ئې مخ خلاصې او همواره ده؛ دلته «وحشي او د اوږدو کږو ښاخونو لرونکي دنګ وحشي پسونه» [2] او غرڅې پریمانه موندل کـېـږي. له دې ځایه د جلګې سیند ډېـر لیرې نـهٔ دی. د دې کلي اوبـهٔ ښې او د اوبو له چینو او د «پلت» یا «سَرَف زي» له سیند څخه دي. (براد فوټ، مک لین)

**پالتو**: سیند: [3]: ۳۱ – ۳۲، ۲ – ۶۸ «الف»: دا یو سیند دی چې په همدې نوم له یوهٔ کوتل څخه راپورته کـېـږي او د کټواز له منځه په تـېـریدلو ځان د آب ایستاده جهیل ته رسوي؛ دا اوبـهٔ د خپل بهیر په اوږدو کې تریو بخوني دي؛ د سیند غاړې په هیڅ ځای کې له ۴ فیټو لوړې نـهٔ دي او د سیند ارتوالی ئـې ۲۰ فیټه او ژوروالی ئـې ۱ فیټ دی. ویل کـېـږي چې د پالتو کوتل سخت دی او له زرمت څخه د خروټو تر سیمې پورې د ګړنګونو او کمرونو له منځه په غرونو کې او د «دوه ګومل» [4] له سیمې څخه تیر سوی دی. ووګورئ: کوتـنـي [5] (براد فوټ) اوسنی نقشې د «پوتی شیله» [6] نوم ښیي. (لودویګ آدمک)

[1] -PALTANAI or PATANAI
[2] -urial
[3] -ALTU
[4] -Dwa Gumal
[5] -Kotanni
[6] -Putay Shilah



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پالو**: [7]: ۵۹ – ۳۴، ۱ – ۶۸ : دا د بامیان په ولسوالي کي د «غندک کوه» [8] په یوهٔ مهمیز کي یو کوتل دی. دا کوتل خپل نسبي اهمیت لري، د دې کوتل په کارولو سره کیدای سي د بامیان – آق رباط پر سړک باندي فشار راتیټ سي خو په دې لاره باندې د توپونو تېـرول ناشوني ښکاري. دا کوتل له قلعهٔ سرکاري ۲/۱ – ۶ مایله پورته د خواجه علي زیارت ته نېـږدې پیل او په شمال لور کي په غرونو ورخېـږي او ځان تر چشمه پالو پوري رسوي او د آق رباط د سویلي کوتل د سویل په ۲/۱ – ۳ مایلی کي د «تـنګي موشان» [9] په سرکي عمومي عادي سړک ورسره یو ځای کـېـږي. (اې. بي. سي)

**پلون**: [10] : ویل کـېـږي چي دا د آجرستان په لویدیځ کي کومه دره ده.

* **پامي**: [11] : ۲۳ – ۳۴، ۵ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کي د «شیخا» [12] په ختیځ کي د «درهٔ جلګه» [13] د یوې څانګي په اوږدو کي یو کلی دی.

* **پناګیر**: [14]: ۳۹ – ۳۲، ۱۳ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کي د خوشامند د سویل لویدیځ په څو مایلی کي یو کلی دی.

**پانه**: یا : پاڼه : [15]: ۶ – ۳۳، ۱۹ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولسوالي کي یو کلی دی چي تقریباً ۵۰۰ اندړ غلزي په کي میشت دي. له دې ځایه د یوهٔ کوچني پوځي ځواک لپاره اړتیا توکي ښایي تر لاسه سي. دلته د غونډیو پر سرونو باندې د شپنو او لوهاني سوداګرو کـېـږدی ولاړې دي چي په ژمي کي دلته راکډه کـېـږي. دوی خپلي اوبـهٔ همدلته له یوهٔ کاریز څخه تر لاسه کوي. (براد فوټ). په دې نوم یو بل ځای د غزني په سویل کي د «سردِه رود» [16] په اوږدو کي په ۱۷ – ۳۳، ۳۱ – ۶۸ «ن» کي موقعیت لري.

**پناه**: کوهٔ پناه: دا د بهسودو په سیمي کي یو منځغری یا میان کوه دی چي «برجي ګي بهسود هزاره ګان» [17] په کي دیره دي.

* **پنډک**: [18]: دا د پروان په ولایت کي د غوربند د یوې څانګي په اوږدو کي د «یخ درې» په سویل کي یو کلی دی.

**پنده ناو**: وګورئ: زرسنګ

**پـنـدټ**: [19] :دا په کافرستان کي یو کلی دی چي د کونړ پر پوله واقع او ویل سوي چي د درې په منتهی الیه کي د یوې هوارې دښتي په خط الرأس کي واقع او ۱۰۰۰ کورونه په کي دي. (میسن)

**پاندو**: [20] :دا د سیاه پوش کافرانو یوه قبـیـله ده چي پخوا د «پوهان» [21] په درې کي میشت ول او اوس د (مل) (الیشنګ) [22] د درې په ختیځې برخي استوګنه ده. دلته دا قبـیـله څو کلي لري په دغو نومونو :

| | | | |
|---|---|---|---|
| Pandu | پاندو | Mukiwati | موکي وتي |
| Parmahwal | پر مهوال | Nioli | نیولي |
| | | Teiliu | تیلیو |

د دې قبـیـلي ډېـر لږ کسان د اسلام په دین مشرف سوي دي. (راورتي)

[7] -PALU
[8] -Ghandak Koh
[9] -Tangi Mushan
[10] -PALUN
[11] -PAMI
[12] -Shika
[13] -Dara -i- Jelga
[14] -PANAGIR
[15] - PANAH or PANNAH : ددې نوم مخې ته ئې (پناه) لیکلي دي. – زه ژباړونکی ئې د پاڼي په ډول لولم. - ژ

[16] -Sardeh Rud,
[17] -Burjigai Besud Hazaras
[18] -PANDAK
[19] -ANDIT
[20] -PANDU
[21] -Pohan
[22] -Mel (Alishang)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

* **پنج آب:** يا: پنج آو: [23] : ۲۳ – ۳۴، ۱ – ۶۷ : پنج آب د باميانو د ولايت يوه ولسوالي ده چې ۱۵۲۶ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېـر ئې چې بزګرې پرګنې دي د ۱۱۶۱۹ تر ۱۵۲۳۹ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لويديځ لوري له «لال و سرجنګل»،[24] له شمال لوري له يک ولنګ، له شمال ختيځ لوري له «باميام؟» [25] له ختيځ لوري له «دِۀ بهسود» [26] او له سويل لوري له «ورس» [27] سره کرښه لري. پنج آب تقريباً ۲۷ کلي لري چې ۱۳ کلي ئې له ۵۰۰ تـنو ډېـر استوګن وګړي. لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي :

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تگاب ِ برگ ِ سفلی | | Tar Bulaq | تربولاق | Piyazan | پيازان | Akhzarat | آخ زرت |
| خم ِ مارگه «مارگـۀ سفلی» | | خوردک تخته | | تگاب ِ برگ ِ عليا | | Tagab -i- Barg -i- Sufla | |
| Ghar Ghari | | غار غاري | غرغري | Daraz Qol | دراز قول | Kham- i -Marga (Marga -i- Sufla) | |
| Marga -i -Ulya (Marka -i- Ulya), | | مارگـۀ عليا «مارکـۀ عليا» | | Gandab | گنداب | Tara Pus | تره پوس |
| نيل قول «نگول» | | Narges | نرگس | Guhdar | گهدر | Miyan Kawak | ميان کاواک |
| Anak -i- Neqol | | آنک ِ نيقول | | Tukhak | تخک | Nilqol (Negol) | |
| Sang-i-Mashaf, | | سنگ ِ مشاف | | Hesarak -i- Neqol | | حصارک ِ نيقول | |
| Kerani | کراني | Miyana Deh | ميانه دِۀ | Sewak -i- Neqol | | سيوک نيقول | |
| سديز «سگديز» | | Targhi | ترغي | Sar -i- Neqol | | سر ِ نيقول | |
| Khum | خـُم | Godar | گودر | Paye Bun | پی بن | Sadiz (Sagdiz) | |
| | | Sar -i- Darakhtan | | سر ِ درختان | | قريـۀ جان محمد | |

**پنج آب**: پنجاو: دا د دايزنګي هزاره په سيمې کې يو لوی کلی دی. په دې نوم دوه نور کلي په ۲۲ – ۳۴، ۱ – ۶۷ «الف» او ۱۵ – ۳۴، ۵۲ – ۶۶ کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**پنج آب**: پنجاو :لوړوالی: ۹۲۰۰ فيټه. دا د دايزنګي هزاره ګانو په سيمې کې د دمې نيولو يو ځای دی چې سرای هم لري.

**پنج آسيا**: دا د هلمند د سيند د ښې غاړې په اوړدو کې يو کلی دی. کيدای سي دا هماغه پنج آسياب وي چې په ۲۱ – ۳۴، ۷ – ۶۸ «ج» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**پنج فيلان** :دا د بابا د غرۀ په يوۀ لوړ مهميز کې يو کوتل دی چې د «کالو» [28] له منځغري څخه د باميانو تر درې پورې سړک وربانديې تېـرېـږي. کوتل ته د ختلو لاره چې له «گمبت» [29] څخه پيل کـېـږي ډېـره ستوغه نـۀ ده خو په خپله کوتل د حاجي ګک د کوتل په پرتلې لوړ دی. د کوزيدلو لاره د پورته کيدلو د لارې په پرتلې ډېـره سر خوړې ده؛ له دې پرته نور ټوله لاره د زغم تر کچې ښه لاره ده او د اوښانو د تګ لپاره مناسبه ده. د پنج فيلانو په کلي کې چې له ګمبت څخه ۵ مايله ليرې دی د تاجيکانو ۱۵ کورونه دي. له ګمبت څخه تر «قلعـۀ توپچي» [30] پورې، دا باميانو دره ۱۰ مايله ارته ده. (عطاء محمد)

**پنج پای**: دا د آجرستان د پولادا هزاره ګانو يوه څانګه ده.

**پنج پای**: ۲۹ – ۳۴، ۱۳ – ۶۸ «ج»: دا په خروار کې يو کلی دی چې د يوسف خيلي غلزيو ۸۰ کورونه په کې ودان دي. (ګريسباخ)

* **پنج پای**: ۳۹ – ۳۴، ۱۸ – ۷۰ «ن»: دا د لغمان په ولايت کې د تره خيلو په ختيځ کې د الينګار په درې کې يو کلی دی.

[23] -PANJAB Or PANJAO
[24] -Lal wa Sarjangal
[25] -Bamiam
[26] -Deh Behsud
[27] -Waras
[28] -Kalu glen
[29] -Gumbat
[30] -Kala Topchi


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**پنج پای**: وګورئ: اوټ پور [31]

**پنجشیر**: ۳۰ – ۳۵، ۵۱ – ۶۹: دا یوه دره ده چې اوبـهٔ ئـې د پنجشیر په سیند کې راتوليـږي؛ د پنجشیر سیند د خاواک کوتل ته نیـږدې د هندوکش په سویلي ډډو کې سر راپورته کوي. وروسته له دې چې بې شمـیـره ویالې، خوړونه او سیندونه ورسره یو ځای سي، چې د غوربند او «شکار درې» [32] سیندونه ئـې مشهور سیندونه دي، د پنجشیر سیند د کابل سیند ته ورغوځي. د درې پورتـنـی برخه د منځغري په توګه توصیف سوې چې ارتوالی ئـې له ۲۰۰ یارډو تر ۴/۱ – ۱ مایل پورې توپیر مومي. په دې درې کې بې شمـیـره کلي سته او هم غنم، وربشې، مالوچ او شولې تر ډیـره کرل په کې کـیـږي ؛ تر څنګ ئـې د زرد آلو، توتو او چارمغزو بې شمـیـره ګڼ بڼونه هم لري، د میوو دا ونې تقریباً تر هر کلي راتاو دي. د میوو دغه بڼونه د بار وړونکو څارویو د تـیـریدلو لپاره لویې موانع جوړوي.

سره له دې چې د پنجشیر مناظر د سترګو د لید له منظره محدود دي خو نرم او ښکلي دي. د ناهموارې سرې بخونې سطحې پر مخ ئـې د استوګنې کورونه چې ټینګ دیوالونه لري جوړ سوي دي، د دغو کورونو مربع ډوله کلک برجونه د هرې غونډۍ پر سر لیدل کـیـږي؛ د ونو او پاڼو موسکا او د میوو تک شنـهٔ بڼونه د کرنیزو پټیو په شان تر هر کلي راتاو دي.

پنجشیریان د ښو سرتـیرو په توګه ډیـر شهرت لري. د ګوډ تیمور له وخته وروسته پنجشیریان تر ډیـرو وختونو پورې د کابل د سلطنت له ډیـریو پرله پسې سلاطینو څخه مستقل ول او په دې توګه دا دره تل مدام د غیر طبیعي جګړو او شخړو ډګر وو. پنجشیریانو دوست محمد خان د خپل واکمن په توګه ومانـهٔ خو د امیر خزانې ته ئـې هیڅ شی ورنـهٔ کړل.
د دوی وسلې چخمخي توپک او د افغانانو «پښتنو – ژ» په شان چړو ته ورته اوږدې تورې دي.
پنجشیریان د ډیـریو کوهستانیانو په شان عمدتاً تاجیکان دي.
دوی سني مسلمانان دي، د دوی له مسلمان کیـدلو څخه ډیر وخت نـهٔ تـیـریـږي او په دین کې په شدت متعصب دي.
ویل کـیـږي چې پنجشیریان د بابر له وخته مخکې کافران ول.
د پنجشیریانو په منځ کې یو شمـیـر جولاګان سته چې ټوکران اوبي خو پنجشیریان خپلې جامې د کابل له بازار څخه ترلاسه کوي. سره له دې پنجشیریان په پارسي خبرې کوي خو په «پشه یي» ژبې هم پوهیـږي.
ښاغلي میسن وايي چې پخوا په پنجشیر کې د سپینو زرو یو کان وو.
هغه کوتلونه چې له پنجشیر څخه په هندوکش کې اندراب ته تللي دي دا دي :

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خاواک | | رجک | Rejak | تیل | Til | زُوریه | Zuria |
| پرندیو | Parandev | ارزو | Arzu | شوبه | Shoba | | |

ویل کـیـږي چې د پنجشیر په سر کې د پریان له منځغري څخه پینځه سړکونه تللي دي:

| | |
|---|---|
| ۱ | شمال لویدیځ لور ته د « چـُـنډُک کوتل Kotal Chunduk» له لارې تر خوست پورې |
| ۲ | د منځغري له پاسه د «ناوک کوتل Nawak Kotal» پورې او له هغـهٔ ځایه تر «انجمن Anjuman» پورې |
| ۳ | د «چمار Chamar» د کوتل له سره د غرونو له منځه تر کافرستان پورې |
| ۴ | د پریان له چاردهي څخه سړک د «وریاج کوتل Wariaj Kotal» له لارې تر کافرستان پورې |
| ۵ | د پریان له چاردهي څخه سړک د «اریوح Arioh » له لارې تر کافرستان پورې |

په ۱۸۸۶ز کال کې د پنجشیر سړک د باروړونکو اوښانو د تګ لپاره مناسب نـهٔ وو خو کچرې وربانديې تللې؛ له همدې نیتې راوروسته کیدای سي په دې لارې باندې کار سوی وي او اوس به ښـهٔ سوی وي ځکه چې ویل کـیـږي د خاواک کوتل د عرابه لرونکو وسایطو د تګ لپاره عملي دی. (میتلند، شهزاده تیموس، وود، میسن، لیچ)
لاندې په دې دره کې د کلیو او د بـیـلو سویو منځغرونو لیست وړاندې کـیـږي؛ دا لیست د پنجشیر د درې له سر څخه د هغـهٔ ټکي تر ګاونډ پورې جوړ سوی چې دره د چاریکار په سړک سره پای مومي؛ لاندني نومونه د شهزاده تیموس د راپور له مخې اخیستل سوی دی :

| د کلي نوم | | د کورنیو شمـیـر | استوګن وګړي | |
|---|---|---|---|---|
| چپ چي کاني | Chapchi Kani | ۲۰ کورنی | تیلي هزاره ګان | Tili Hazaras |

---

31 -UTPUR

32-Shakar Dara



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| خاواک | | ۱۲ کورنۍ | سیدان او غلزي |
| د پریان منځغری | | ۳۰۰ کورنۍ | تاجیکان |
| تیل «ختیځواله» | Til | ۹۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| هـَـودَک | Haodak | ۵ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| دشتِ رواټ | Dasht-i-Rewat | ۱۳۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| غنچو | Ghanchu | ۲۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| سفید جیر؟ چهر؟ | Safedjir | ۱۵۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| مته | Matah | ۵۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| خنج | Khinj | ۱۰۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| جرویش | Jarwesh | ۱۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| برجیمن | Burjyman | ۲۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| خارو | Kharu | ۶۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| پُش | Push | ۱۲ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| پَـــش غور | Pashghur | ۱۰۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| مرز | Marz | ۲۰۰ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| شاهبه | Shahbah | ۱۲ کورنۍ | تیلي هزاره گان |
| دره هزاره | Hazara Dara | ۵۱۰ کورنۍ | هزاره گان |
| | | ۳۱۰ کورنۍ | تاجیکان |
| برک / بارک | Barak | ۲۰ کورنۍ | تاجیکان |
| آرو | Aru | ۱۵ کورنۍ | تاجیکان |
| سنگانه | Sanganah | ۵۰ کورنۍ | تاجیکان |
| آستانه | Astana | ۸۰ کورنۍ | تاجیکان |
| وت قول | Watkol | ۳۰ کورنۍ | تاجیکان |
| ملاسپور | Mulaspur | ۴۰ کورنۍ | تاجیکان |
| ناوه لیچ | Nawalich | ۲۰ کورنۍ | تاجیکان |
| جنگلک | | ۱۰ کورنۍ | تاجیکان |
| منجه کور | Manjakor | ۸۰ کورنۍ | تاجیکان |
| دادا خیل | Dada Khel | ۳۰ کورنۍ | تاجیکان |
| ساته | Sata | ۳۰ کورنۍ | تاجیکان |
| پرندیو منځغری | Parandev glen | ۵۳ کورنۍ | تاجیکان |
| یعقوب خیل | | ۳۰ کورنۍ | تاجیکان |
| دِهٔ ماله | Deh Malah | ۴۰ کورنۍ | تاجیکان |
| بازارک یا کچو | Bazarak, or Kachu | ۴۰ کورنۍ | تاجیکان |
| لغانه | Laghana | ۲۰ کورنۍ | تاجیکان |
| خانیز | Khaniz | ۶۰ کورنۍ | تاجیکان |
| فاروبل | Farubal | ۸۰ کورنۍ | تاجیکان |
| پراخ | Parakh | ۵۰ کورنۍ | تاجیکان |
| غیجي | Ghiji | ۴۰ کورنۍ | سیدان |
| نولاوه | Nolawa | ۲۰ کورنۍ | تاجیکان |
| کوت دره | Kot Dara | ۱۸۰ کورنۍ | تاجیکان |
| ایسارک دره | Isarak Dara | ۱۲۰ کورنۍ | تاجیکان |
| درخیل | Dar Khel | ۲ کورنۍ | تاجیکان |
| بخشي خیل | Bakshi Khel | ۱۰۰ کورنۍ | تاجیکان |
| قلعـهٔ فتح الله | | ۲۰ کورنۍ | تاجیکان |
| پیاوش دره | Piawash Dara | ۱۱۲ کورنۍ | تاجیکان |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| شيخان | | ۳۰ کورنی | تاجيکان |
| بنګي | Bangi | ۱۲ کورنی | تاجيکان |
| برمل خيل | Baram Khel | ۱۲ کورنی | تاجيکان |
| کابازان | Kabazan | ۲۰۰ کورنی | تاجيکان |
| ګلستان | | ۳۰ کورنی | تاجيکان |
| پا چنار | Pachinar | ۴۰ کورنی | تاجيکان |
| دِه خواجه | | ۳۰ کورنی | تاجيکان |
| اوداوه | Aodawa | ۱۲ کورنی | تاجيکان |
| الوک | Alok | ۱۵ کورنی | تاجيکان |
| قلعه لنګر | Kala Langar | ۱۰ کورنی | تاجيکان |
| تاوک دره | Tawak Dara | ۲۴۰ کورنی | تاجيکان |
| آب دره | | ۳۰۰ کورنی | تاجيکان |
| عنابه | Anaba | ۱۵۰ کورنی | تاجيکان |
| ملکان | | ۲۰ کورنی | تاجيکان |
| فراج دره | Faraj Dara | ۲۰۰ کورنی | تاجيکان |
| ميران شاه | | ۴۰ کورنی | تاجيکان |
| زمان کور | Zamankor | ۱۲ کورنی | تاجيکان |
| کورابه | Koraba | ۳۵ کورنی | تاجيکان |
| پُف دم | Pufdam | ۱۵ کورنی | تاجيکان |
| سنجان | Sanjan | ۱۵۰ کورنی | تاجيکان |
| آرامغيه | Aramghia | ۱۵ کورنی | تاجيکان |
| بوله غـَـين دره | Bolaghain Dara | ۳۰۰ کورنی | تاجيکان |
| کهنه دِه | | ۱۰۰ کورنی | تاجيکان |
| نماز جای | Nimazjai | ۳۰ کورنی | تاجيکان |
| ګلبهار | | ۳۰۰ کورنی | تاجيکان |
| معاذالله خيل | Mazulla Khel | ۱۵ کورنی | تاجيکان |
| مير بابا | | ۱۸ کورنی | تاجيکان |
| أشتـَـرګيران | Ushtargiran | ۵۰۰ کورنی | تاجيکان |
| جمال اکه | Jamal Aka | ۵۰۰ کورنی | تاجيکان |
| کشکتان | Kishiktan | ۱۰۰ کورنی | تاجيکان |
| دِۀ رئـيسان | Deh Raisan | ۴۰ کورنی | تاجيکان |
| چينه کي | Chinaki | ۶۰ کورنی | تاجيکان |
| خم زردګر | Kham Zardgar | ۵۰۰ کورنی | تاجيکان |
| کاريزي | Karezi | ۱۵۰۰ کورنی | تاجيکان |
| محمد عراقي؟ محمود راقي؟ - ژ | Muhammad Iraki | ۲۰۰۰ کورنی | تاجيکان |
| اروکي | Aruki | ۱۰۰ کورنی | تاجيکان |
| بادام علي | Badam Ali | ۳۰ کورنی | غلزي |
| شوخي | Shokhi | ۵۰ کورنی | غلزي |
| **ټولټال** | | **۱۱۱۹۴ کورنی** | |

* **پنجشير:** يا: رخه: [33] : ۱۵ – ۳۵، ۲۸ – ۶۹: پنجشير د پروان د ولايت يوه ولسوالي ده چې ۷۰۶ کيلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچينو ئـي د وګړو شمـيـر چې بزګري پرګني دي د ۲۵۲۵۴ تر ۳۱۴۵۷ تـنو تر منځ اټکل کړی

33-PANJSH I R Or ROKHA

دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له کاپیسا او سالنگ، له شمال لوري له اندراب، له ختیځ لوري له چهار قریه او درهٔ هزاره او له سویل لوري له «دُرنامي» او کوهستان سره کرښه لري. پنجشیر ۵۲ کلي لري چي ۲۰ کلي ئـي له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Onaba | عنابه | Dostam Khel Faraj | | دوستم خیل فراج | | آستانه | |
| Bad Qul | باد قول | بازارَکِ خاص | | دشتک | | Oluk | اولوک |
| پار شارِ آب دره | | Parakh | پارخ | بخشي خیل | | Borja Khel | برجه خیل |
| Tawakh | تاوَخ | Paye Chenar | پای چنار | Piyawesht | پیاوشت | Parshar- i- Abdara | |
| خانیزي بازارک | | Hessarak -i- Shast | | حصارک شصت | | جنگلک | |
| Talakan | تاله کان | Dawa Khel | داوا خیل | خواجه | | Khanizi-Bazarak | |
| رحمن خیل | | Dur Khel | دُرخیل | Darband -i- Faraj | | دربندِ فراج | |
| Sanguna | سنگنه | Satai Bazarak | | ساتي بازارک | | Zaman Kor | زمان کور |
| غلبک «غل بلک» | | شیخان | | Shofai- Abdara | شوفهٔ آبدره | Shast Rukha | شصت رخه |
| Farach, | فراچ | Ghuchi Dar Khel | | غچي در خیل | | Ghalback (Ghelbalak) | |
| قلعچهٔ فراج | | Tulkha -i- Bazarak | | تلخهٔ بازارک | | Qabezan | قابضان |
| Kunda wa Kot | | کندا و کوت | | Gim Abdara | گیم آب دره | Qalacha-i-Faraj | |
| Garwashi | گرواشي | کهنه آب دره | | Kango Abdara | | کانگو آب دره | |
| Koraba | کورابه | Gir- i- Abdara | | گیر آب ده | | گلستان | |
| ملاخیل | | Ferobal Bazarak | | فروبال بازاک | | Mala Bazarak | ماله بازارک |
| نولیچ و مل اسپه | | Nolaba | نول آبه | Manjahur | | مجاور؟ - ژ | منجه هور |
| مرچستانِ بازارک | | Waro wa Barak | | وارو و بارک | | Nolich wa Malaspa | |
| | | | | | | Mareshtan -i- Bazarak | |

**پانه**: وګورئ: پناه: [34]:

* **پنقاش**: [35]: ۳۲ – ۳۴، ۱۶ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په سویل کي «قاش» ته نېـږدې یو کلی دی.

**پاپـین کلان**: ۷ – ۳۴، ۲۴ – ۷۰ «ن»: دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه داری کي یو کلی دی چي د تور غرهٔ د غرنی لړی په لمن کي د «یاغي بند» [36] د سویل په نېـږدې ۵ مایلی کي موقعیت لري. استوګن وګړي. میاګان. [37] «جنکینز»

**پاپـین خورد**: – ۳۴، – ۷۰: دا جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه داری کي د «پاپـین کلان/ لوی پاپـین» د شمال په یو مایلی کي یو کلی دی. استوګن وګړي: میاګان. «جنکینز»

**پاپـین کوتل** : لوړوالی: ۱۳۰۰۰ فیټه. دا په «سپین غرهٔ» کي یو کوتل دی چي د جلال آباد د ولسوالي د حصارک له درې څخه په کورم کي تر کرمان درې پورې منتهي کـېـږي. دا کوتل د پاپین یا د حصارک د سیند په سر کي او د اوغز د کوتل په نېـږدې ۵ مایلی کي موقعیت لري. ویل سوي چي دا کوتل په دوبي کي د کچرو د تګ لپاره عملي دی. «آی. بي. سي»

**پاپین روډ**: وګورئ: حصارک روډ

34 -PANNAH See PANAH

35 -PANQASH

36 -Yaghiband

37 -Mians



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

**پراچه** : [38]: پراچه د يوې قبـيـلې نوم دی چې په افغانستان کې عمدتاً د کابل په ولايت کې ميشت دي. پراچه وګړي په اصل کې له پنجاب څخه افغانستان ته رامهاجر سوي دي او سني مسلمانان دي. ويل سوي چې په افغانستان کې د پراچه وګړو ټول ټال شمـېـر ۴۰۰۰ تنه دی. کيدای سي د پراچه نوم د «پرانچه يانو» [39] له نوم سره يو شان وي. (آی. بي. سي)

**پراخ:** [40]:۳۳ ــ ۳۵، ۳۰ ــ ۶۹: دا د پنجشير د سيند په پورتـنۍ برخې کې د سيند د غاړې په ښي لاس کې له بازارک څخه ۲ مايله کوز يو کلی دی. دې کلي کې د تاجيکانو ۵۰ کورونه ودان دي. دلته يو پراخ او ارت ځای دی چې د «ميدان مارغه» [41] په نوم يادېـږي، دا ځکه په دې نوم يادېـږي چې په پخوا زمانو کې دلته کومه جګړه سوې وه. سړک ئـې ښـهٔ دی او د منځغړي ارتوالی له ۶۰۰ تر ۷۰۰ يارډو پورې دی او له دې شمـېـر څخه ۱۵۰ يارډه ئـې د سيند بستر نيولی دی. دا تر غرونو لاندې په کيڼ لاس کې موقعيت لري. اوبـهٔ په څو کانالونو کې بهېـږي او کم عمقه دي. غرونه په دواړو غاړو کې لوړ دي، د کيڼ لاس غرونه زښت ډېـر ستوغ دي. (شهزاده تيموس)

**پرام:** [42]:دا د «چهار دسته هزاره ګانو» [43] يو ټبر دی.

**پرانچه:** [44]: دا د «هندکي يانو» [45] يوه قبـيـله ده چې د دې هيواد په بـېـلابـېـلو برخو کې خوارهٔ وارهٔ دي. دا چې دوی په اصل کې څوک او د چا له پښته دي هيڅ معلومات نـهٔ سته؛ ښاغلی ميسن وايي چې دوی کولای سي له «کافرانو» سره خبرې او مکالمې وکړي او ژبه ئـې تر يوې کچې د کافرانو ژبې ته ورته ده. د پرانچه وګړو يو شمـېـر کورنۍ د پنجشير د درې په کوزنۍ برخې کې ژوند کوي. راورتي هم وايي چې د سوات په درې کې يوازيني سوداګر چې موندل کـېـږي پرانچه سوداګر دي. همداشان دوی د برتانوي قلمرو په سيمو کې د راول پنډۍ د ولسوالۍ تر څنګ په بنو، پـېـښور، کوهاټ، هزاره سيمو کې موندل کـېـږي. د دوی ژبه هندي ژبې ته ورته ده؛ ډېـره شوني ښکاري چې دوی دې د کافرستان د کافرو له نژاد څخه وي.

عليم الله هم وايي چې پرانچه ئـيان په سوات کې سوداګر دي او هغه کاروانونه چې د خيـبر له منځه تـېـرېـږي اکثريت ئـې د پرانچه ئـيانو له پلوه پرمخ بيول کـېـږي. په دوی باندې زښت ډير اعتماد کـېـږي او د بډايانو او د پنجاب د بانک دارانو له پلوه ورته ستره مالي مرسته رسول کـېـږي.

جنکينز د جلال آباد د ولسوالي د پرانچه ئـيانو په هکله لاندنۍ کتـنې لري :

«ويل سوي چې د پرانچه د نوم ريښه له «فراشانو» [46] يا «حاجبانو» څخه راغلې ده. دوی په دې ولسوالي کې د «سرای» [47] په کلي کې دي؛ (سرای د سنګر سرای [48] يوه برخه ده چې په افغان خاوره کې ده) او يو شمـېـر ئـې په «لنده بوچ» [49] کې موندل کـېـږي.

په سرای کې چې د کامې يوه برخه ده او د کابل د سيند د غاړو په اوږدو کې ده، د پرانچه ئـيانو شمـېـر ۲۰۰ کورنۍ دی. په لنده بوچ او همدا شان په خپله کامې کې د دوی ۲۰ کورنۍ دي. دوی د دې ولسوالي په نورو برخو کې نـهٔ موندل کـېـږي.

په خپله پرانچه ئـيان وايي چې دوی په اصل کې د پنجاب له «خوشان» [50] څخه راغلي دي. دوی په خپلو منځو کې په هندوستاني ژبې خبرې کوي. د دوی مسلکي چاري: بوټ جوړول، رنګمالي، جامې پلورل او نور او نور دي او هم په بزګرۍ کې بوخت دي. (جنکينز، الفنستن، ميسن، راورتي، عليم الله، د پنجاب راپور، من فول)

**پارنډِه** : يا: پارنديو: پرنديف: :دا يوه

---

[38] -PARACHA

[39] -Paranchehs

[40] -PARAKH

[41] -Maidan-i-Margha

[42] -PARAM

[43] -Chahar Dasta Hazaras

[44] -PARANCHEH Or PIRANCHA

[45] -Hindkis

[46] - farashan : يا : chamberlains : په بيلابيلو معنی ګانو راغلی دی لکه : د پاچا د کور د چارو ناظر، د ښار پانګوال؛ په برتانيې کې د دربار وزير، د سلطنتي کورنۍ خانه سامان، په اروپايي هيوادونو کې خزانه دار. په دهخدا فارسي فرهنګ کې وايي چې : پيشکار، ناظر، حاجب، رئيس خلوت. معانی ديګر : (در اصل) فراش اتاق خواب، پرده دار، سرپيشخدمت (در خانه ی اشرافی)، (در برخی دربارها) رئيس خلوت، کارمند ارشد دربار، خزانه دار، ګنجور،

[47] -Sarai

[48] -Sangar Sarai

[49] -Landabuch

[50] -Khushan



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**پارندِه** : یا: پارندیو: پرندیف: [51] :دا یوه دره ده چې له هندوکش څخه سرچینه اخلي او مخ پر سویل ختیځ لوري د پنجشیر د درې پر خوا غځېدلې ده او له «کچو» [52] یو مایل پورته ورسره یو ځای کېــږي. ویل سوي چې پارنده یو تـنگ منځغرى دى چې ارتوالى ئـې له یوهٔ ځایه تر بل ځایه پورې توپیر مومي؛ په ځینو ځایونو کې ۴۰ یارده او ځینو کې تر ۱۰۰ یاردو پورې دی او تر شاو خوا ئـې دنگ گرنگونه ولاړ دي. د منځغري د دواړو خواوو غرونه له ونو څخه محروم دي؛ په دې غرونو کې یوازې کوچنې بوټې موندل کـېـږي چې د سون توکو په توگه ورڅخه کار اخیستل کـېــږي؛ خو د غرونو په ډېرو کې په پسرلي او دوبي کې د مالګر لپاره پریمانه واښـهٔ شنـهٔ کـېـږي. د منځغري په پای کې د کروندې پټې سته چې یو شمـېــر پټي ئـې د غرونو په ډېرو کې هم جوړ سوي دي.
د پنجشیر له درې سره د یوې ځای کېدنې له ټکې تقریباً ۴ مایله پورته له پارنده سره له سویل لوري یوه بله لویه دره یو ځای کـېـږي چې د «تول درې» [53] په نوم یادېــږي؛ دې درې کې یو شمـېــر کرهنه هم سوې ده.
د پارنده په درې کې د تاجیکانو لاندني کلي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| Kaltari | کلتاري | Kalat | کلات |
| Godaran | گودَران | Dangana | دنگانه |
| Kund | کند | Daolana | دَو لانه |

د پارندې یا پارندیو د درې په سر کې له کچو ۱۳ مایله لیرې په هندوکش کې یو کوتل دی چې د «پارندیو کوتل» [54] په نامهٔ یادېــږي. یو سړک پارندیو درې ته او د کوتل له سره د پارندیو درې سر ته ورغلی دی. (آی. بي. سي)

**پارنده: یا: بازارک:** [55]: ۲۵ – ۳۵، ۲۴ – ۶۹ «الف»: دا د هندوکش په لویدیځ کې یو کوتل دی چې د پنجشیر له درې څخه د اندراب په درې منتهي کـېـږي. دا کوتل د پارندهٔ درې په سر کې په پنجشیر کې له کچو څخه نبـږدې ۱۳ مایله لیرې واقع دی. دا کوتل «د خاواک له کوتله په استثناء» د دوه وو درو تر منځ د ارتباط بهترین لاره جوړوي؛ د بومي راپورونو له مخې داسې ښکاري چې دا کوتل د افغان اوښانو لپاره نسبتاً آسانه کوتل دی. ویل کـېـږي چې په ۱۸۶۴ز کال کې امیر شیرعلي د همدې کوتل له لارې توپونه په اوښانو تـېــر کړل؛ کیدای سي امیر دغه مهال سړک باندې کار کړي وي چې توپونه ئـې وربانډې تـېــر کړل خو له هغه مهاله راوروسته نور په دې کوتل کې کوم کار نـهٔ دی سوی. دا کوتل د نوامبر د میاشتې له نیمايیو څخه بیا د اپریل د میاشتې تر نیمايي یا پای پورې په واورو بند وي.
ویل کـېـږي چې د همدې کوتل په شاو خوا کې هندوکش د «تالاب ِ آب» [56] په نوم پـېـژندل کـېـږي؛ د کوتل په شمالي ډډې کې تیټ مهمیزونه او ټیټې ډډې ښې په ونو پوښلي دي خو په خپله اساسي غرنۍ لړۍ لوڅه لیره ده چې په ځینو ځایونو کې ئـې د کال له سره تر پایه واورې وي. د پارنده کوتل د بازارک په نوم هم یادېــږي. (آی. بي. سي)
* **پارچه**: [57]: ۹ – ۳۳، ۲۴ – ۶۸ «ن»:دا د غزني په ولایت کې د «بَر متا خان» [58] په شمال ختیځ کې د «سر دِهٔ رود» [59] په درې کې یو کلی دی.
* **پارچاو**: [60]: دا د ننگرهار په ولایت کې د لال پورې په شمال ختیځ کې د پاکستان پولې ته نبـږدې د کابل د سیند په اوړدو کې یو کلی دی.

**پارگام**: یا: بگرام: [61]: ۸ – ۳۵، ۲۳ – ۷۱ «الف»: دا د کونړ د سیند دښې غاړې په اوږدو کې له اسمار څخه ۲/۱ – ۷ مایله پورته یو کلی دی چې ډیره کرهنه په کې سوې ده. (آی. بي. سي)

51 -PARANDEV Or PARANDEH
52 -Khushan
53 -Tul Dara
54-Parandev Dara
55 -PARANDEV Or BAZARAK
56 -Talab -i -Ab
57 -PARCHA
58 -Bar Metakhan
59 -Sardeh Rud
60 -PARCHAO
61 -PARGAM Or BARGAM


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**پریان:** ۳۸ – ۳۵، ۱ – ۷۰ «ن»: دا د هندوکش له غرنی لړی څخه راکوز سوی یو منځغری دی چې مخ پر سویل لویدیځ لوري د پنجشیر د درې په سر کې ځغلیدلی دی او له «دشتِ رواتِ» [62] څخه شاوخوا ۱۱ مایله پورته د پنجشیر له درې سره یو ځای کېږي. په دې منځغري کې څو کلي دي، تر ټولو لوړ کلی ئې د «پیر گزار» [63] په نوم کلی دی. وروسته د «مزار» [64] او د «کرپیت آو» (کور پیت آو) [65] کلي راځي چې ۲۰۰ کورونه لري. له «کرپیت آو» کوز د څلور دهي لاندني کلي دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| جسته | Jista | کوچان | Kuchan | قلعهٔ سوجه | Kala -i- Sujah |
| شاه نوز | Shahnuz | پریان خاص | | Parian | |

پورته یاد سوي کلي ټول په ګډه ۱۰۰ کورونه دي. په دې توګه په ټول پریان کې ۳۰۰ کورونه دي او وګړي ئې ټول له یوې مخې تاجیکان دي. دلته ډېره بنه کرهنه سوې ده خو د میوو ونې نهٔ لري. له دې ځایه د یوهٔ غنډ لپاره اړتیا توکي چې د دوه وو اونیو کفاف ئې وکړي راټولیدای سي. ویل سوي چې د منځغري پراخوالی په اوسط ډول ۲۰۰ یارډه دی او دلته د سرتیرو د کمپ لپاره ځای هم سته.
«ویل سوي چې له «کرپیت آو» درې سړکونه تللي دي. د کیڼ لاس سړک (شمال لویدیځ ئې) چې د «چندک کوتل» [66] له لارې تللی خوست ته ځي ډېر بد سړک دی، ویل کېږي چې دا سړک د بار وړونکو څارویو د تګ لپاره عملي نهٔ دی. دوهم سړک (شمالي هغه ئې) د «کوتلِ بوبک» [67] منځغري باندې منتهي کېږي ، د بوبک کوتل اکثراً د «کوتلِ ناوک» [68] په نوم یادېږي) او له همدې ځایه د «انجمن» [69] منځغري ته او بیا بدخشان (فیض اباد) ته ځي. سړک له پیر گزار پورته، (د یوهٔ مهمیز له سره؟) له یوهٔ کوچني کوتل څخه تېرېږي چې د «کوتلِ کله تک» [70] په نوم یادېږي. پخوا همدې ځای ته نېږدې یوه کلا او د «کله تک» [71] کلی وو خو دا کلی اوس متروک دی. له کوتل څخه د کوزیدلو لاره آسانه نهٔ ده او له انجمن څخه ۱۰ مایله لیرې موقعیت لري. د لارې په اوږدو کې اوبهٔ سته خو د استوګنې کوم ځای نهٔ سته. یوه لاره چې ویل کېږي د اوښانو د تګ لپاره مناسبه لاره ده خو د کوزیدلو لاره ئې آسانه نهٔ ده. (له فیض آباد څخه د پنجشیر د درې تر سر پورې د دې لارې شتون له ستراتیژیک اړخه د اهمیت وړ دی. دریم سړک ښي لاس ته (ختیځ خوا ته) د «چمار منځغري» (درهٔ چومر) [72] ته او د غرونو له سره کافرستان ته تللې ده. دا یوه سخته لاره ده. د چمار لاره د پام وړ سختې لري او دواړو خواوو ته ئې دنګ غرونه ولاړ دي. دا لاره ډېره تنګه نهٔ ده او څو ځایونه په کې سته چې سرتېري کولای سي په کې کمپ ووهي. ویل سوي چې دا لاره یوازې د پلي کسانو د تګ لپاره ده او د آسونو د تګ لپاره عملي نهٔ ده. د پریان خلک خپل سون توکي له چمار څخه تر لاسه کوي او د ولې د ونو پریماني په کې ډېره ده. ویل سوي چې له «کرپیت آو» څخه د چمار تر کوتل پورې لاره ۱۰ مایله ده.
د کوزیدلو لاره همدې منځغري ته ورته برابر سختوالی لري. په څوارلسم مایل کې د کافرانو د استوګنې لومړی سیمه رارسېږي. د کافرانو د استوګنې دا سیمه د «اتاتي» [73] په نوم یادېږي. په دې پسې دغه د استوګنې سیمې دي:

| | |
|---|---|
| پوشل | Poshal |
| لشته غم | Lashta Gham |
| لرهه پاچا | Larha Pachha |

62 -Dasht -i- Rewat
63 -Pir Guzar
64 -Mazar
65 -Kirpitao (Kur Pitab)
66 -Kotal Chunduk
67 -Kotal -i -Bubak
68 -Kotal Nawak
69 -Anjuman
70 -Kotal -i- Kalatak
71 -Kalatak
72 -Chamar glen (Darrah -i- Chomar)
73 -Atati


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ویل کـښـږي چې د «لرهه پاچا» کلی د امیر تیمور «ګوډ تیمور» له پلوه ودان سوی دی. د پاچا له کلي کوز د «ګدو»، «چتور» او «مندول» [74] کلي دي. په مندول کې د «اریوح» [75] ختیځ او د «وریاج» [76] ختیځ منځغري سره یو ځای کـښـږي.
« په پریان کې له چهاردهي څخه کافرستان ته دوه سړکونه «وَرَز» او «اریوح» [77] ته تللي دي. دا دواړه سړکونه په همدغو نومونو د منځغرونو سرته خېـږي او په همدغو نومونو منځغرونو ته ورکوزېـږي. د اریوح سړک تر بل هغهٔ ډېـر ښـهٔ سړک دی. په همدې سړک باندې آسونه بیول سوي دي. د وریاج پر لارې باندې د مالګې سوداګر تګ راتګ کوي. هغه سوداګر چې د پنجشیر له خوا مالګه راوړي د «تقریباً ۵ مایلو په اوږدوالي» نیمایي لارې پورې راځي او همدلته ئـې جنس په جنس مبادله کوي. ویل سوي چې د وریاج لاره د چمار لارې ته ورته ده.دا کوتل په «کوهٔ سرخ شال» کې چې لوړه ځوکه لري واقع دی. د کوتل د شمال ختیځ غرنۍ ځوکه د «میر اسمعیل» په نوم یادېـږي. د اریوح کوتل د سرخ شال د غرنۍ ځوکې په شمال لویدیځ کې واقع دی. د «واخي» [78] غرنۍ ځوکه د سرخ شال د غرنۍ ځوکې په بلې خوا کې ده.
ویل سوي چې د وریاج له کوتله د کافرانو تر لومړي استوګنځي پورې واټن هماغومره واټن دی لکه چې د چمار د سړک له لارې یعني تقریباً ۱۴ مایله دی. د استوګنې دا لومړنی ځای د «لینا» «لینار؟» [79]او ورپسې ئـې د «پُرنګ» [80] په نوم یادېـږي.
په دغو دواړو کلیو کې د «قریشي کافرانو» [81] ۲۵۰ کورونه دي (دوی ځکه د قریشي کافرانو په نوم یادېـږي چې یو وخت دلته په دغو کلیو «قریشي اعراب» [82] استوګن ول. دلته کرهڼه سوې ده او هم د میوو بڼونه لري. منځغری ۲۰۰ یارډه ارتوالی لري بیخ ئـې تـنګ او ډډې ئـې ستوغې دي. لږ کوز ئـې د «دشت ِ عیار» [83] په نوم یو ځای دی چې سرتـېـري په کې کمپ وهلای سي. له دې ځای کوز منځغری په یوهٔ تـنګي بدلېـږي چې د «مخیم کداو/؟ کندو - ژ» [84] په نوم یادېـږي.
تر دې نور کوز د «لینا» په نوم یو بل تـنګی راځي چې په دواړو خواوو کې ئـې ستوغ غرونه واقع دي.
ویل سوي چې له پریانو څخه د درې واړو سړکونو په منځ کې تر ټولو سړکونو ښـهٔ سړک د اریوح سړک دی چې باروړونکي یابوګان ورباندې کولای سي لاړ سي خو دا تګ به ئـې له سختۍ سره مل وي. دا سړک هم دوه وو نورو سړکونو ته لږ و ډېـر ورته والی لري. د اریوح د منځغري د لویدیځې خوا په ۵ یا ۶ مایلۍ کې پخوا یو کلی وو چې د اریوح د کلي په نوم یادیده، خو له دې چې پر دغه کلي باندې کافرانو تل مدام بریدونه کول نو کلیوالو دا کلی پریښود او اوس متروک دی. ویل سوي چې د اریوح کوتل له «چهار دِه» څخه ۱۵ مایله او ورهاخوا ئـې د کافرانو لومړی کلی په همدومره واټن لیرې دی. دا کلی هم د اریوح د کلي په شان او د اریوح د کلي د دلیل په شان یو متروک کلی دی؛ ځکه دا کلی هم د پنجشیریانو بریدونو ته ډېـر معروض کلی وو. «شهزاده تیموس، له بومي معلوماتو څخه»

**پړي دره**: وګورئ: جګدلک

**پرجک**: [85] : ۴۴ – ۳۴، ۱ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د «دریای بندِ امیر» په اوږدو کې یو کلی دی.

**پرجنه**: [86]: ۱۹ – ۳۴، ۵۱ – ۶۹ «ن»: دا د جلال آباد په ولسوالي کې د «سرخاب» د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د «سرخ پُل» [87] د پلـهٔ د سویل لویدیځ په ۳ مایلۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: خوګیاڼي. «مک نایر»

* **پارک**: [88]: ۳ – ۳۳، ۴۳ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د موسی خیلو د سویل ختیځ په نږېـږدې ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

---

74 -Gadu, Chatur and Mandul
75 -Arioh
76 -Wariaj
77 -Waraz and Arioh
78 -Wakhe
79 -Lina (Linar ?)
80 -Purang
81 -Koreshi Kafirs
82 -Koreshi Arabs
83 -Dasht -i -Ayar
84 -Mukhim Kadao
85 -PARJAK
86 -PARJ I NA
87 -Surkh pul
88 -PARK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پاړپـــت**: [89] :ــ۳۵، ــ ۷۱: لوړوالی: ۱۳۵۰۰ فيټه. دا يو کوتل دی چې په کافرستان کې د «پيټي ګل» [90] د درې له سر ځخه بيا په چترال کې تر «بمبورت» [91] پورې منتهي کـېـږي. کوتل ته د ختلو او د کوزيدلو لارې دواړه ډېـرې ستوغې دي او د کچرو د تګ لپاره غير عملي دي. (رابرتسن)

**پارسا**: ــ ۳۴، ــ ۶۸: دا يوه ستوغه او تـنګه دره ده چې د غوربند په چاردهي کې راڅرګندېـږي. د دې درې له سر ځخه د اوښ د تګ يوه لاره نيغ په نيغه د پغمان تر غرنی لړۍ پورې تللې ده ؛ همدا لاره د کابل – چاريکار سړک باندې هم منتهي کـېـږي. زموږ د لومړنيو معلوماتو له مخې په دې درې کې شيخ علي هزاره ګان استوګن دي خو عملاً د دې منځغري او د استوګنو وګړو په هکله ئـې دقيق معلومات په لاس کې نـهٔ لرو. (پيکاک)

* **پارشار**: [92]: ۱۳ – ۳۵، ۲۵ – ۶۹ «ن»: دا د کاپيسا په ولايت کې د «اناوې» [93] په ختيځ کې د پنجشير د سيند د يوې څانګې دغاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

**پاړسيوان:** وګورئ: پينځم ټوک

* **پـَــروم**: پاروم: [94]: دا د لغمان په ولايت کې، «بالامرغاب» [95] ته نېـږدې د نورستان د سيند د يوې څانګې په اوږدو کې يو کلی دی.

نور بيا

**پروان: دا د افغانستان د مرکز په ختيځ کې يو...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه [لينک] لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

---

[89] -PARPIT
[90] -Pittigul valley in Kafiristan
[91] -Bomboret in Chitral
[92] -PARSHAR
[93] -Anawa
[94] -PARUM
[95] -Bala Murghab


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ